د افغانستان د بیړنۍ سرپناه او نه

خوړ توکو د ۲۰۱۷ کال کلستر/ډلې ستراتیژي

| د ستراتیژۍ وضعیت | بڼه/نسخه | وضعیت | د انفاذ نېټه | راتلونکې بیا کتنه |
|---|---|---|---|---|
| | ۲۰۱۷ | د سلا مشورو د ستراتیژیکي ډلې له خوا تایید شوې | ۲۰ مارچ ۲۰۱۷ | جون ۲۰۱۷ |
| د سرپناه کلستر/ډلې جوړښت | | | | |
| د غبرګون نوم | بیړنۍسرپناه او نه خوړ توکي، د افغانستان کلستر/ډلې ۲۰۱۷ کال ستراتیژي | | | |
| د کلستر/ډلې مشرتابه اداره | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري | | | |
| د کلستر/ډلې همغږی کوونکی | نوم: مارتا کو-ډونکور<br>بریښنالیک:<br>coord.afghanistan@sheltercluster.org/kowdonko@unhcr.org<br>شمیره: ۷۹۱۹۹۰۰۴۹ (۰) +۹۳ | | | |
| د حکومت همکاره اداره او اړیکه | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت<br>نوم: محمد شریف علیزی<br>بریښنالیک: sharif.alizai@mrrd.gove.af<br>شمیره: ۷۹۷۹۷۷۵۷۳ (۰) +۹۳ | | | |
| د کلستر/ډلې د همغږي کوونکي مرستیال/ د کلستر شریکبانی | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري<br>نوم: محمد باقر حیدري<br>بریښنالیک: haidari@unhcr.org<br>شمیره: ۷۹۱۹۹۰۱۳۸ (۰) +۹۳ | | د کډوالۍ نړیواله اداره<br>نوم: زین الله سلطاني<br>بریښنالیک:<br>zsultani@iom.int<br>شمیره: ۷۹۶۱۳۳۱۸۸<br>(۰) +۹۳ | |
| د معلوماتو د تنظیم مدیر/آفسر | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري | | | |

| | |
|---|---|
| | بریښنالیک: im.afghanistan@sheltercluster.org<br>شمیره: ۷۹۱۹۹۰۱۴۸ (۰) +۹۳ |
| د سلا مشورو ستراتیژیکه ډله- اداري | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري، د کډوالې نړیواله اداره، ډي آر سي، د کډوالو ناروېجي شورا، ای آر سي ایس، د سره صلیب نړیواله کمیټه (د ناظرینو په څیر د ډونرانو هرکلی کیږي)<br>د سلا مشورو د ستراتیژیکي ډلې د دندو لایحه پر sheltercluster.org باندي د لاس رسي وړ ده |
| د کلستر/ډلې غړي | **د ۲۰۱۷ کال تر جنوري پورې (۳۵ فعال غړي)؛**<br>ای سي ایف، اکټید، ای ډي آر ای، افغان اید، ای آر سي ایس، برک، پاملرنه، کریټاس جرمني، کریشن اید، کنسرن، کورډ اید، ډی آر سي، فوکس، جي اي آر اي ایس، ایچ آر ډي ای، آی آر سي، آی ایم سي، د کډوالی نړیواله اداره، اسلامیک ریلیف، میشن ایسټ، د کډوالو ناروېجي شورا، این سي ای، این سي آر او، این آر سي، پي آی این، پي یو-ای ایم آی، کیو آر سي ایس، ریلیف انټرنیشنل، سیف ده چلډرن، شیلټر فار لایف، سالیډیریټز انټرنیشنل، د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (یونیسف)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري، د ملګرو ملتونو د اسکان دفتر، ویلټونګر هیلف |
| اړوند تخنیکي کاري ډلې: | په ۲۰۱۷ کې د اړوندې تخنیکي کاري ډلې لومړنۍ موخه د پي ډي ایم د ارقامو/ډیټا په کارولو سره د معیار په اوسنیو بستو کې د اجناسو د مشخصاتو کتنه او د سرپناه د چارو په اړه د تخنیکي لارښوونې برابرونه ده. د اړونده تخنیکي کاري ډلې د دندو لایحه پر sheltercluster.org باندې د لاس رسي وړ ده<br><br>**د اړتیاوو د اوسني وضعیت عمومي کتنه**<br>په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان هر ولایت له طبیعي پېښو څخه متاثر شوی، په داسې حال کې چې له ۳۴ ولایتونو څخه ۱۹ هغه یې هم له وسله والو شخړو او هم له طبیعي ناورینونو او دغه راز دغو ولایتونو ته د ۶۰۰۰۰۰ افغان کډوالو او نا ثبت شویو افرادو له راستنیدنې څخه اغیزمن شوي. د |

| | |
|---|---|
| اوسنی وضعیت | ۲۰۱۶ په اوږدو کې، د یو شمیر ارزونو پر بنسټ، د بیړنۍ سرپناه او نه خوړ توکو کلستر د داخلي بې ځایه شویو وګړو، راستانه شویو، د زیانمنیدونکو کوربه کورنیو په ګډون له نږدې ۵۹۴۹۷۱ کسانو (۲۰ سلنه ښځینه، ۲۰ سلنه نارینه، چې ۲۹ سلنه یې نجوني او ۳۱ سلنه یې هلکان وو) سره د بیړنۍ سرپناه او نه خوړ توکو مرسته کړې ده. سربېره پر دې، د ۲۰۱۶ کال په وروستیو دریو میاشتو کې، نوموړي کلستر له ۶۸۵۰۰ زیانمنیدونکو کسانو سره ژمنۍ مرستې وکړې، کومو چې هغوي د دې وړ کړل، څو د ژمي له سړې هوا سره مقابله وکړي. بیړنیو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په موخه د ډول ډول هڅو سره سره، تمه کیږي چې د زیانمنیدونکو وګړو پر ژوند له ناوړو اغیزو سره به بشري وضعیت دوام مومي. د زیاترو افغانانو د لوړې کچې بې وزلۍ سره سره د ناوړه پېښو په وړاندې د هغوي د مقاومت کچه خورا ټیټه ده. د کوچنۍ کچې طبیعي پیښې، لکه زیات اورښت کولای شي د هغوي پر سرپناه او نورو د نه خوړ توکو خورا زیاته ناوړه اغیزه پرېباسي. له خوا لیږ یا هیڅ عاید سره، زیاتره کورنۍ د دې وړتیا نه لري، چې له لاسه ورکړل شوي توکي بېرته پر نورو هغو بدل کړي. د دې اټکل کیږي، چې بې ځایه شوې کورنۍ به د نورو بدیلو لارو د نشتون له امله تر معیار کښته شرایطو او ګڼ میشته هستوګنځایونو کې ژوند پر مخ وړي. دغه وضعیت د ملاتړ/حمایت جدي اندیښنې را ولاړوي، په ځانګړي ډول د ماشومانو، زیات عمر درلودونکو او معیوبو یا د مزمنو ناروغیو درلودونکو افرادو په اړه، او دغه راز میرمنې د جنسي تاوتریخوالي له ګواښ سره مخ کوي. سربیره پر دې، د راستانه شویو وګړو نږدې ۴۵ سلنه (ثبت او نا ثبت شوي) لا اوس هم د بیړنۍ سرپناه او نه خوړ توکو ته اړ دي. د ۲۰۱۶ کال په ډسمبر کې د آی آر سي له خوا په څلورو ولایتونو کې د نا ثبت شویو راستانه شویو کسانو د ۵۰۷۲ کورنیو (ننګرهار ۴۳۰۸ کورنۍ، خوست ۴۳۰ کورنۍ، پکتیا ۲۷۶ کورنۍ او لوګر ۵۸ کورنۍ) یوه ترسره شوې ارزونه ښیي، چې د دوي ۱۶ سلنه په خپلو کورونو، ۶۰ سلنه په کرایه، ۵ سلنه په خیمو، ۱ سلنه په موقتي سرپناه او ۳ سلنه بې له کومې سرپناه پرته په ازاده فضا کې ژوند کوي. له بل پلوه، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د دې اټکل کوي، چې په ۲۰۱۷ کال کې به د راستنیدونکو کډوالو شمیر ۶۳۰۰۰۰ ته لوړ شي. د ۲۰۱۶ کال د تجربو له مخې، د دغو بیرته راستنیدونکو زیاتره، په تېره بیا تر ټولو زیات زیانمنیدونکي کسان به چټکو بیړنیو سرپناوو او د نه خوړ توکو ته اړ وي، چې دغه کار به پر کوربه کورنیو او ټولنو تر هغې د فشار لامل وي، تر کومه چې د دایمي |

هستوګنځایونو حل نه وي موندل شوي. ځمکې ته لاس رسی لا اوس هم یو له سترو ننګونو څخه ګڼل کیږي، چې سرپناه ته پر لاس رسي اغیزمن کوي ، په تېره بیا د زیانمنیدونکو کورنیو لپاره. د کوربه کورنیو په پرتله ځوک چې خپلې ځمکې لري او میشت دي، بې ځایه او بې‌رته راستنې شوې کورنۍ په عام ډول ځمکې ته د لاس رسي له نشتون سره مخ دي؛ که څه هم د ځمکې د ویش په پروګرامونو کې د پالیسي په کچه پرمختګ رامنځ ته شوی. د اجارې نه ډاډ او له املې یې په زور ایستنه لا اوس هم د حمایت د پام وړ ګواښ ګڼل کیږي. دغه چاره زیاتره د کور، ځمکې او ملکیت له حق څخه د سرغړاوي او د نابسیا جبران د میکانیزمونو لامل ګرځي.

دغه پیچلی بشري وضعیت د ژوندانه د ملاتړ، نغدي مرستې، بیړنۍ سرپناه او د تر ټولو زیاتو زیانمنیدونکو لپاره د دایمي سرپناوو د جوړولو د مرستې په ګډون، د کلستر ترمنځ یوه پیاوړې غبرګون/ځواب ته اړتیا لري. کلستر/ډله به له حکومت؛ د ساتنې کلستر/ډلې او د کور، ځمکې او ملکیت همکارو ادارو سره کار ته دوام ورکړي، څو د ځمکې اړوند مختلفو موضوعګانو ته رسیده ګي وشي. سربیره پر دې، لا اوس هم د پرمختیایي ځواب ویونکو نوښتونو ترمنځ اړیکې شتون نه لري، لکه د هستوګنې ټولنیزې پالیسي ګانې او پروګرامونه، دغه راز په لوړه کچه د میشتیدنې پلانونه، کوم چې د بیړنۍ سرپناه او نه خوړ توکو کلستر د ځواب لپاره، چې له بیړني حالت څخه پرمختیا ته تېر شي، خورا ارزښت لري.

**ګټه اخيستونکي:**

د بیړنۍ سرپناه او نه خوړ توکو کلستر/ډله لاندې خلکو ته رسیدنه کوي:

- **(ایچ آر پي۲۰۱۷ کاټ ای) له طبیعي پېښو څخه اغیزمن شوي:** *د طبیعي پیښو په پایله کې رامنځ ته شوې بشري اړتیاوې*
- **(ایچ آر پي۲۰۱۷ کاټ ای) د جګړې له امله داخلي بې ځایه شوي وګړي:** *له وسله والې جګړې څخه رامنځ ته شوي بشري وضعیت، هم په بیړنـي پړاو کې (تر شپږ.و میاشتو پورې) او هم د بې ځایه کیدنې په اوږد مهاله کې (تر دریو کلونو پورې)*
- **(ایچ آر پي۲۰۱۷ کاټ ای) ثبت او نا ثبت شوي راستنیدونکي:** هغه کورنۍ چې په دې

*وروستیو کې له ګاونډیو هیوادونو راستنې شوې او ارزول شوي چې سرپناه او د نه خوړ توکو ته سخته اړتیا لري.*

- **(ایچ آر پي۲۰۱۷ کاټ ای) زیانمنېدونکي کوربه ټولنې:** *زیانمنېدونکې کورنۍ چې د اوږد مهال داخلي بې ځایه شویو وګړو یا بیرته راستنېدونکو کوربه وي او محدودې زیرمې لري.*
- **(ایچ آر پي۲۰۱۷ کاټ سي) له سخت زیانمنتوب سره مخ کیدونکي کورنۍ:** *اوږد مهاله بې ځایه شوې کورنۍ، چې بیړنۍ مرستې یې تر لاسه کړي خو تر شپږو میاشتو وروسته اوس هم بشري اړتیاوې لري.*

**د زیانمنتوب شرایط**

کلستر د اغیزمن شویو وګړو ترمنځ د خورا زیاتو زیانمنیدونکو د معلومولو لپاره د زیانمتوب شپږ ځانګړي شرایط تایید کړي: **د کورنۍ ښځینه سرپرسته؛ د کورنۍ ماشوم (تر ۱۸ کلنۍ کم عمره) سرپرست؛ د کورنۍ معیوب سرپرست؛ د کورنۍ زیات عمر درلودونکی سرپرست؛ ستره کورنۍ (۸ یا زیات غړي)؛ خورا بې وزله کورنۍ؛ د مزمنې ناروغۍ یا د شدید زیانمنتوب درلودونکې کورنۍ-** دغه راز چې د کورنۍ اقتصادي وضعیت هم ارزول شوي وي. هغه کورنۍ چې سرپرستي یې د یوه شخص له خوا ترسره کیږي؟

**لومړنۍ موخې:**

د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مرسته به د کلستر له معیارونو، ګډو ارزونو او تر ویش وروسته څارنو سره سم د یو شمیر فکتورونو په پام کې نیولو سره وویشل شي، لکه د سرپناه حالت، اقتصادي وضعیت، د ملاتړ/حمایت اندیښنې او جغرافیایي موقعیت.

| په ۲۰۱۷ کې د هدف اټکل شوي وګړي | نوي بې ځایه شوي (جګړه) | له طبیعي پېښو اغیزمن شوي | ناثبت شوي راستنیدونکي | ثبت شوي راستنیدونکي | کوربه کورنۍ | اوږد مهاله داخلي بې ځایه شوي |
|---|---|---|---|---|---|---|

**د کلستر موخې او فعالیتونه**

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د اړو وګړو هدف ګرځول** | ۴۵۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ۱۹۹۸۰۰ | ۲۴۷۵۰۰ | ۲۷۳۶۰ | ۵۵۰۰۰ |
| **د ۲۰۱۷ کال لپاره د کلستر هدف** | | | | | | |
| **د نه خوړ توکي** | ۴۵۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ | ۸۸۸۰۰ | ۵۵۰۰۰ | | |
| **د سرپناه چارې** | ۲۲۵۰۰ | ۲۵۰۰۰ | ۱۹۹۸۰۰ | ۲۴۷۵۰۰ | ۲۷۳۶۰ | ۵۵۰۰۰ |

**۱ د طبیعي پېښو او وسله والې شخړې له امله اغیزمن شویو کورنیو ته د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو پر وخت او همغږۍ شوي ځواب/غبرګون**

- په ګډو ارزونو کې د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو همکارو ادارو ګډون، څو یقیني کړای شي، چې د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مرستې د ثبوت/شواهدو له مخې ترسره کیږي.
- بیړنۍ سرپناوې (د جنس/نغده) هغو کورنیو ته وویشل شوې، چې سرپناوې یې نامناسبې وې (په ازاده فضا کې، موقتي سرپناه یا د تودوخې په وړاندې نا مناسبه موقته سرپناه).
- د نه خوړ توکو معیاري بستې هغو کورنیو ته وویشلې شوې، چې ملکیتونه یې له لاسه ورکړي.
- د جوړونې/بیارغونې بستې هغو کورنیو ته ویشلې شوې، چې سرپناوې یې د ناوړه پېښو له امله ویجاړې یا زیانمنې شوې دي.
- د هر پړاو تر تطبیق وروسته د ویش څارنه ترسره شوې، څو حساب ورکونه یقیني او د راتلونکو فعالیتونو د سمونو لپاره زمینه برابره کړي.
- د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مخکې له مخکې ستراتیژیکه ځای پر ځای کول/زیرمه کول او د بیړني غبرګون د چمتوالي لپاره د جنس او/یا نغدو مرستو د زیرمو برابرول.

**۲ د بیرته راستنېدونکو لپاره د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو پر وخت او همغږۍ شوي ځواب**

- په ګډو ارزونو کې د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو همکارو ادارو ګډون، څو یقیني کړای شي، چې د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مرستې د کره ارزونې/شواهدو له مخې ترسره کیږي.
- بیړنۍ سرپناوې (د جنس/نغده) هغو بېرته راستنېدونکو ته وویشل شوې، چې سرپناوې یې

نامناسبې وې (په ازاده فضا کې، موقتي سرپناه یا د تودوخې په وړاندې نا مناسبه موقته سرپناه).

- د نه خوړ توکو معیاري بستې هغو بې‌رته راستنېدونکو ته وویشلې شوې، چې ملکیتونه یې له لاسه ورکړي.
- دایمي سرپناوې د هغو بې‌رته راستندونکو لپاره برابرې شوې، چې نامناسبې سرپناوې یې درلودې او د هغوي د تر لاسه کولو وړتیا یې نه درلوده.
- د هر پړاو تر تطبیق وروسته د ویش څارنه ترسره شوې، څو حساب ورکونه یقیني او د راتلونکو فعالیتونو د سمونو لپاره زمینه برابره کړي.

**۳ له هغو کورنیو سره چې د ناوړه پېښو له امله له سخت زیانمنتوب سره مخ کېږي د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مرسته، چې د هغوي د منځ مهاله بشري اړتیاوو ته رسیده ګي ترسره شي**

- له هغو زیانمنیدونکو کورنیو سره به مرسته ترسره شي، څوک چې تر بشري چټکې مرستې وروسته د دې وړ نه وي، چې مناسبه سرپناه تر لاسه کړي.
- د هر پړاو تر تطبیق وروسته د ویش څارنه ترسره شوې، څو حساب ورکونه یقیني او د راتلونکو فعالیتونو د سمونو لپاره زمینه برابره کړي.

د کلستر موخه ۱ د طبیعي پېښو او وسله والې شخړې له امله اغیزمن شویو کورنیو ته د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو پر وخت او همغږی شوي ځواب

| شاخص | اړ | هدف | نارینه | ښځینه | هلکان | نجوني |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د اداري ترمنځ د کورنۍ په کچه د اړتیا او زیانمنتوب د ارزونې پر بنسټ د برابرې شوې مرستې سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ |
| د خیمو او کرایې لپاره د نغدو مرستو په ګډون د هغو زیانمنیدونکو کسانو سلنه چې بیړني سرپناوې تر لاسه کوي | ۲۰ ٪ | ۸۰ ٪ | ۱۴۱۵۵ | ۱۵۶۴۵ | ۲۲۵۳۰ | ۲۲۵۳۰ |

د کلستر/ډلي شاخصونه او اهداف

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د هغو زيانمنيدونکو کسانو سلنه چې د نه خوړ توکو معياري بستې تر لاسه کوي | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ | ۱۲۳۵۰۰ | ۱۳۶۵۰۰ | ۱۹۵۰۰۰ | ۱۹۵۰۰۰ |
| د هغو زيانمنيدونکو کسانو سلنه، چې د سرپناوو د جوړوني/بيارغوني لپاره يې مواد تر لاسه کړي | ٪ ۲۰ | ۱۰۰ ٪ | ۲۶۶۰ | ۲۹۴۰ | ۴۲۰۰ | ۴۲۰۰ |
| د هغو ځوابونو/غبرګونونو سلنه چې د ويش د څارنې په تعقيب رامنځ ته شوي | ۱۰۰ ٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ |

د کلستر موخه ۲ د بیرته راستنېدونکو لپاره د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو پر وخت او همغږی شوي ځواب

| شاخص | اړ | هدف | نارينه | ښځينه | هلکان | نجوني |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د اداري ترمنځ د کورنۍ په کچه د اړتيا او زيانمنتوب د ارزوني پر بنسټ د برابرې شوې مرستي سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰ ٪ | ٪ ۱۰۰ | ٪ ۱۰۰ | ٪ ۱۰۰ | ٪ ۱۰۰ |
| د خيمو او کرايي لپاره د نغدو مرستو په ګډون د هغو زيانمنيدونکو کسانو سلنه چې بيړني سرپناوي تر لاسه کوي | ۱۵-۴۰٪ | ۳۵٪ | ۲۷۹۳۳ | ۳۰۸۷۳ | ۴۴۱۰۵ | ۴۴۱۰۵ |
| د هغو زيانمنيدونکو کسانو سلنه چې د نه خوړ توکو معياري بستې تر لاسه کوي | ۱۰-۵۰٪ | ۱۰۰ ٪ | ۲۷۳۲۲ | ۳۰۱۹۸ | ۴۳۱۴۰ | ۴۳۱۴۰ |
| د دايمي سرپناه د ترسره شويو اړتياوو سلنه | ۱۰۰ ٪ | ٪ ۴ | ۲۹۱۹ | ۳۲۲۷ | ۴۶۱۰ | ۴۶۱۰ |
| د هغو ځوابونو/غبرګونونو سلنه چې د ويش د څارنې په تعقيب رامنځ ته شوي | ۱۰۰ ٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ |

د کلستر موخه ۳ له هغو کورنيو سره چې د ناوړه پېښو له امله له سخت زيانمنتوب سره مخ کيږي د بيړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مرسته، چې د هغوي د منځ مهاله بشري اړتياوو ته رسيده ګي ترسره شي

| شاخص | اړ | هدف | نارینه | ښځینه | هلکان | نجوني |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د شوک/ټکان څخه د اغیزمن شویو کورنیو سلنه چې مرسته ورسره شوې، څو بیرته خپل حالت ته وګرځي یا مناسبه سرپناه ترلاسه کړي | ۱۰-۳۸٪ | ۱۰۰٪ | ۱۷۶۸۳ | ۱۹۵۴۵ | ۲۷۹۲۱ | ۲۷۹۲۱ |
| د هغو څوابونو/غبرګونونو سلنه چې د ویش د څارنې په تعقیب رامنځ ته شوي | ۱۰۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ | ۸۰-۹۰٪ |

کړنلار

فعالیتونه به د هر ځانګړي حالت لپاره د یوې مناسبې کړنلارې په کارونې سره ترسره کیږي، او باید د مارکیټ د ارزونې او د حمایت/ملاتړ د ګواښ د شننې په ګډون، د ارزونو پر بنسټ وي، چې په تعقیب یې د اغیزو د کمونې ستراتیژۍ ګانې عملي کیږي، مخکې تر دې چې پر کومه مالي چاره لاس پورې شي. د مارکیټ په ارزونه کې باید تر ټولو د نږدې مارکیټ د فعالیت او لاس رسي شننه شامله وي. د تورم او د داسې خنډ پېښوونکو چارو، چې پر ځایي اقتصاد ناوړه اغیز کوي، باید راکم کړای شي. که چیرې راتلونکې شرایط پوره کړای شوي وي د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلسټر لپاره نغدې پیسې تر ټولو غوره کړنلار ده: الف) ګټه اخیستونکو ته د لاس رسي وړ؛ ب) ګټور او د کار وړ؛ ج) ثابت/ټینګ. د کرایې لپاره نغده مرسته د لنډ مهالي بیړني غبرګون په څیر زیات نه زیات د شپږو میاشتو لپاره د تطبیق وړ ده. په ورته وخت کې به موقتي سرپناوو او د ژوندانه نوښتونو ته د ارجاع په ګډون نور غوراوي هم په پام کې ونیول شي. سر بیره پر دې، د ښار جوړونې وزارت به هم له تر ټولو زیاتو زیانمنیدونکو سره چې په دوامداره توګه سرپناه ته اړتیا لري، مرسته وکړي.

د کلسټر د منځګړیتوبونو له لارې به هڅه وشي چې له کوربه ټولنو او قومي ډلو سره د یوه سوله ییز او یو بل ته د منلو وړ چاپیریال رامنځ ته شي، چې په ټولنه کې د موجوده میکانیزمونو د ملاتړ پر مهال کوربه زیانمنیدونکې کورنۍ هم شاملې شي، لکه د انعطاف رامنځ ته کول او پر اوږد مهالو حل لارو تمرکز کول.

هڅه به وشي چې د منل شویو معیارونو سره سم به تر هدف لاندې هغو وګړو ته، چې د بیړنۍ،

موقتي او دایمي سرپناوو لپاره اړونده مختلفې مرستې تر لاسه کوي، د سرپناه لازم توکي او تر څنګ يې تخنیکي ملاتړ/ ظرفیت جوړونه برابره شي.

**د بیړنیو حالاتو د نه خوړ توکي، سرپناه او ژمنۍ مرستې**
*(مهرباني وکړئ د تخنیکي معیارونو لارښوونو ته مراجعه وکړئ)*

*تخنیکي معیارونه:*

د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلستر همکارو ادارو منلې، چې ګټه اخیستونکو ته برابر شوي د نه خوړ توکي باید له هغو مشخصاتو سره سم وي، کوم چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د عمده کومکي توکو په کتلاک کې معرفي شوي، کوم چې د توکو تشریح او معیارونو په اړه د تخنیکي ارجاع بنسټ جوړوي. د هغو ادارو لپاره چې د نه خوړ توکو لپاره نغدې پیسې برابروي، تر تطبیق مخکې، له نږدې فعال مارکیټ څخه د هر توکي د بیې د معلومولو لپاره، باید د مارکیټ ارزونه ترسره شي، څو بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د اړتیا وړ مشخصه اندازه معلومه شي. د هرې سیمې په کچه د مختلفو فعالیتونو د تمویل لپاره تخنیکي کاري ډله به دغه چارې تنظیموي.

که څه هم د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلستر لومړنۍ موخه د بیړنیو سرپناوو د حل لارو برابرول دي، خو په افغانستان کې د موقتي او دایمي سرپناوو په ګډون، دغه چارې په تمویلي سرچینو، د تطبیق په موده/اهمیت او بشري لاس رسي پورې تړلې:

- **بیړنۍ سرپناوې:** د خیمو، پلاستکي ترپالونو او بیړنۍ سرپناه د لومړنیو توکو په ګډون. ممکنه غبرګون عبارت دي له: خیمو او/یا لومړنۍ بیړنۍ سرپناه، چې پخپل لاس جوړ شوي وي
- **موقتي سرپناوې:** د دې لپاره دي چې بیړنۍ مرستې برابرې شي، په داسې حال کې چې د بیړنیو او دایمي سرپناوو د مرستو ترمنځ د تشې د له منځه وړلو او زیانمن شویو هستوګنځایونو د جوړولو/بیارغونې لپاره کارول کیږي.
- **دایمي سرپناوې:** هغه مرسته ده، چې موخه یې په ځینو حالاتو کې د له لاسه ورکړل شویو

کورونو/هستوګنځایونو جوړول او رغول دي یا کله چې ځمکې ته د لاس رسي/حقونه تر لاسه شي، د داخلي بې ځایه شویو وګړو سره د میشت ځایونو په جوړولو کې کارول کیږي.

***د ژمنیو مرستو بستې***

د کلستر له خوا د ژمنی مرستی د بستو لپاره یوازې د البسه په پام کې نیول کیږي او یوازې د یخې هوا او کله چې ګټه اخیستونکي د طبیعي یا د انسان په لاس د جوړ شوي ناورین په پایله کې اغیزمن شوي او له امله یې خپل ملکیتونه له لاسه ورکړي وي، ورکول کیږي. ژمې ته د چمتوالي په موخه جامې او کمپلې باید هر کال و نه ویشل شي، ځرنګه چې د دغو توکو عمر تر یوه کاله زیات وي او دغه راز کیدای شي په ارزانه بیه په ځایي مارکیټونو کې وپیرل شي. په افغانستان کې پر چاپیریال د کورونو د تودولو د زیاتې اغیزې په پام کې نیولو سره، کلستر د ژمې په میاشتو کې د تودوخې لپاره په کلکه د ګازو د کارونې سپارښتنه کوي. ګاز چاپیریال لیږ ککړوي، د ځنګلونو د وهلو مخنیوی کوي او تر زیاتې اندازې د تودوخې لپاره خوندي غوراویی/انتخاب ګڼل کیږي. که چیرې د ګازو بالونونه ویشل کیږي، باید د لیږد او ویش پر مهال تش وي.

د لیرو پرتو سیمو اوسیدونکي ښایي د ګازو بالونونو د ډکولو محدود لاس رسی ولري، چیرې چې په پراخه کچه د سونګ لرګي د لاس رسي وړ او کارول کیږي. په هغو سیمو کې چې ګاز د ژمنیو مرستو د ویش عمده توکي وي، له لرګیو څخه ګازو ته د اوښتلو د ګټو په اړه باید پوهاوی ورکړل شي، څو په حساس ډول د مرستو د کارونې په اړه ډاډ تر لاسه شي. ژمنۍ مرستې تل باید په مارکیټ کې د سونګ توکو د لاس رسي په پام کې نیولو سره پلان شي. مارکیټ کې د سونګ توکو د شتون په پام کې نیولو سره، په تخنیکي لارښوونکو کې په ګوته شوې د دوو بستو سپارښتنه کوي.

همغږي

داخلي

- کلستر به په ملي او ځایي کچو د همغږۍ د داخلي جوړوښتونو د پیاوړي کولو هڅو ته ادامه ورکړي.
- د همغږي شویو ارزونو او غبرګونونو د ساتلو لپاره به هڅې وشي، څو د سرچینو کارونه

راکمه او د تکرار مخنیوی وشي.

بهرنۍ

- د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلسټر به د حمایت/ایف ایس ای سي/د ښاک د پاکو اوبو/تغذیې/روغتیا له کلسټرونو سره په ګډه کار وکړي، څو د مرستو همغږي، د سکتور مشخصي بشپړوني او په غبرګونونو کې موثریت زیات کړي. په دغو چارو کې ګډه پلان جوړونه، همغږې شوې ارزونې، اړتیاوو او زیانمنتوبونو ته غبرګونونه، ګډه څارنه او داسې نور شامل دي.
- د حمایت، جنډر، چاپیریال او نورو په ګډون د هر اړخیزو موضوعګانو شاملول به د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو د غبرګون د مرکزیت ټکی وي. په دې کې د حمایت له کلسټر او په بشري عمل کې د جنډر د کاري ځواک سره د ظرفیت جوړونې، د جنسیت او عمر په اړه د مختلفو ارقامو د راغونډولو، د سرپناه/نه خوړو توکو د اړتیاوو د جنډر او حمایت د سمې شننې له لارې، چې وکولای شي د غبرګون او لاسته راوړنو په اړه معلومات خپره کړي، نږدې همغږي شامله، خو په دې پورې محدوده نه ده.
- کلسټر به فعال ډول په اړوندو فرعي کاري ډلو لکه EPSWG, GiHA, HAG, HLP, CVWG او د کلسټر ترمنځ کاري ډله کې، چې د اوچا (OCHA) له خوا یې مشري کیږي، ګډون کوي.
- د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلسټر به له اړتیا سره سم بیرته راستنیدونکو ته بشپړه او همغږې شوې مرسته برابره وي.
- د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو اړوند چارو او د حکومت له خوا د یوې رهبري شوې پروسې په لور د پرمختګ لپاره به له اړوند وزارتونو سره د همغږۍ هڅې دوام ومومي.
- دغه کلسټر به له اوچا (OCHA) سره د داخلي بې ځایه شویو وګړو د چارو د عمومي همغږۍ کوونکې ادارې په خیر د ښو اړیکو ساتلو ته دوام ورکړي او د کلسټر ترمنځ به همغږي غښتلې کړي، څو په بشري غبرګون کې همکاري لا پسې پیاوړې شي.
- کلسټر به په ایچ سي ټي کې د هیوادني استازي مخکښه ادارې (ملي بشري ټیم) له لارې د کلسټر ترمنځ د ګډې مدافعې له پیغامونو او استازیتوب سره مرسته وکړي.

| | |
|---|---|
| غبرګون/ځواب | • په ملي کچه، کلستر به د کليو د بيارغوني او پراختيا ، د کډوالو او بيرته راستنيدونکو چارو، د ښاري پرمختيا د چارو د وزارتونو په ګډون له اړوندو دولتي وزارتونو او په ولايتي او ځايي کچه د کليو د پراختيا او بيارغوني له رياستونو، د طبيعي پېښو سره د مبارزې د رياستونو او نورو ځايي ادارو سره خپله همغږي روانه وساتي.<br><br>• د بېړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو مرسته (نغده/جنس) به کورنيو ته په دقيق ډول د اړتياوو تر معلومولو وروسته او د کلستر د حد اقل معيار سره سم، برابره شي.<br>• د منل شويو معياري بستو سره سم د ويشنو په برابرولو سره، هڅه به شوي، چې د اړتياوو پر بنسټ د مرستې ورته اندازه يقيني کړای شي.<br>• کله چې بستې (نغده/جنس) د ايف ايس ای سي او/يا واش له منځګړيتوبونو سره يو ځای ويشل شوې وي، ارزونې، شننې او ويشنې به په ګډه ترسره کيږي، څو د سکتورونو ترمنځ د زيانمنتوب د ګډو/مشترکو شرايطو په کارونې سره، چې د ګډو چارو په هڅولو کې مرسته کوي، د وخت او قيمت موثريت تضمين شي.<br>• د تخنيکي کاري ډلي په مرسته، د سرپناه اوسنۍ معياري طرحې به له حکومت سره په همغږۍ بيا وکتل او نوې شي، څو د همکارو ادارو ترمنځ يوه ټول شموله او متمرکزه تګلار ترلاسه او د پرمختيايي همکارانو سره همکاري لا پسې پياوړې شي. کلستر د سرپناه د ګټه اخيستونکو له خوا پر کيفيتي نظريو تمرکز کوي، څو کلتوري او جغرافيايي تناسب رامنځ ته کړي او غوره شوي کړنلارې به د ويش له څارنې وروسته وسايلو په کارونې سره، د سرپناه روانې پروژې ارزوي.<br>• د بېړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلستر د اړتياوو د روانې شننې او د اړو کسانو په خوځښت کې د بالقوه/ډيناميکو بدلونونو سره سم، مخکې له مخکې د نه خوړ توکو او بيړنيو سرپناوو ځای پر ځای کولو ته ادامه ورکوي.<br>• د ليږد اصلي کړنلار او وسيله د سړک له لارې ده. که څه هم نا امنو او هغو سيمو ته چې د جګړو له امله په ناڅاپي ډول قطع شوي د اولوتنو هڅه وشي. |

| | |
|---|---|
| کلیدي موضوعګانې | • د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلسټر غبرګون به د اړتیاو د معلوملو په موخه د ارزونو (هم دHEAT او په یوه سکتور پورې مشخصې) د سمونې له لارې تطبیق شي. د کلسټر د ارزونې ځانګړې وسیلې به نهایي او د غړو له خوا به تایید شي. سربیره پر دې، د ۲۰۱۷ په اوږدو کې د داخلي نادولتي ادارو او اړوندو وزارتونو ګډون یو لومړیتوب ګڼل کیږي.<br>• په ملي کچه د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو کلسټر له ویش وروسته د څارنې او نظریو د میکانیزمونو له لارې، د اغیزمن شویو وګړو په واړندې د حساب ورکوونې اصلاح او پیاوړي کول.<br><br>• د ځمکې او ملکیت حقونه: د داخلي بې ځایه شویو وګړو او بیرته راستنېدونکو زیاتره کورنې د ځمکې حقونو ته لاس رسی (د بې وزلۍ او بې ځایه کیدنې فکټورونه) نه لري او په ځینو قضیو کې د ځمکې پر سر شخړې له کوربه ټولنو سره ترینګلتیا زیاتوي. حکومت د یوناما د قانون د واکمنۍ څانګې او د کور، ځمکې او ملکیت کاري ډلې په ګډون له ملي او بین المللي مدني ټولنې سره د یوه طرز العمل پر طرحې په ګډه کار کوي، څو تر تایید وروسته د ۱۰۴ فرمان ځای ونیسي.<br>• د سرپناه او نه خوړ توکو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ډونرانو له خوا په بودیجه کې د پام وړ کموالی، د بسیا او مناسبو حل لارو پر برابرولو اغیز کوي.<br>• په نغد او جنس ډول د مرستو په بستو کې د توپیر له امله، د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو په غبرګون کې د منل شویو معیارونو ساتل لا اوس هم یوه ننګونه ده.<br>• امنیتي ستونزې نیغ په نیغه اړمنو کسانو ته پر بشري لاس رسي اغیز کوي، د مناسبو ارزونو، تطبیق او د څارنې او ارزونې چارې له خنډونو سره مخ کوي.<br>• د سرپناه او میشت ځایونو د پاییدونکو حل لارو درول د کلسټر پر مرستندویه همکارو ادارو د لا زیات فشار لامل کیږي، لکه څرنګه چې بیړنۍ مرستې د پایېدونکو حل لارو په چارو بدلې شوې دي.<br>• د ملي بیړني غرګون له میکانیزمونو او د همکارۍ د کاري چوکاټ تر منځ د همکاریو پیاوړي |

| | |
|---|---|
| | کولو او دغه راز د مختلفو طرز العملونو/مرستو برابرولو اړتیا ده.<br>• د همکارۍ له کاري چوکاټ څخه د باندې له نورو همکارو ادارو سره د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو د معیارونو د برابرولو ننګونه. |
| څارنه او ارزونه | • د بیړنۍ سرپناه/نه خوړ توکو په غبرګون کې د پرمختګ او تشو د څارنې لپاره کلستر به تر ویش وروسته د څارنې، 4Wراپورونو، د زیرمو راپورونو او 3Ws په ګډون له مختلفو وسیلو کار واخلي. د کلستر د فعالیتونو ګډه ارزونه هڅول کیږي.<br>• د غبرګون د تطبیق د لاربښوونې لپاره به کلستر یو کاري پلان جوړ او په منظم ډول نوي کوي.<br>• د کلستر له خوا د څارنې او ارزونې چارې په دقیق ډول تر نظر لاندې ساتل د یوه ښه مشق په څیر هڅول کیږي.<br>• د معلوماتو د تنظیم افسر/کارمند به د آی ایم تخنیکي ملاتړ برابرو ي او د څارنې او ارزونې د ټولو فعالیتونو ریکارډ به ساتي. |
| خروجي ستراتیژي | کلستر به له حکومت او نورو پرمختیایي شریکانو سره د خروجي ستراتیژي په جوړولو کار وکړي، په داسې حال کې چې د آی سي سي ټي ګډې ستراتیژی لپاره به د مدافعي چارو ته ادامه ورکړي. |